سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۲/۰۱/۲۲

# پښتو په يوه ليکبڼه: د پښتو ابيڅی په اړه وړانديزونه

دوهمه برخه

د تير په ادامه:

د پښتو ابيڅی په اړه لنډمهاله وړانديزونه:

له لنډمهاله وړانديزونو څخه موخه دا ده د پښتو په موجوده ابيڅی کی چی له عربي ژبی مو رااخيستی، هغه وشي چی تر کيدونکي بريده « پښتو په يوه ليکبڼه » وليکل شي. دلته هم تاکلی ستونزی شته، نظر دا دی چی دا ستونزی لومړی ترهغه بريده چی شونی ده، راټولی او يو په يو هغو لپاره حللار ولټول شي ، دلته له دغو ستونزو څخه يو څو د بيلګی پتوګه رااخلم:

د ( يا ګانو ) ستونزه:

ترڅو چی پښتو ژبه په عربي ابيڅی ليکل کيږي د ( يا ګانو ) ستونزه به ورسره د غاړی غور وي. په عربی ابيڅی د پښتو ژبی د ليکنی په مهال د ناچاری ورځی له مخی، پښتو کی بايد د ياګانو لاندی ډولونه ومنو.

۱ ــ لنډه ( ي , i ): چی مخکی توری يي لنډ زير لري لکه:

کالي، سړي، دوبي، موچي، غوړي او نور ( نومونه )

ځي، راځي، خوري، اغوندي، ښبي اونور ( کړونه يا فعلونه )

۲ ــ اوږده ( ی , e ): چی مخکی توری يي اوږد زير لری لکه :

ادی، مستی، شيدی او نور ( ښځينه نومونه )

پاڼی، ځانګی، ونی او نور ( ښځينه، ډيرګړي نومونه )

ځی، خوری، راځی او نور ( د مخامخګړي يا مخاطب فعلونه )

۳ ــ (ی، ی، y ): دا ډول ( يا ) چی که پښتو په لاتين ابيڅی وليکو يوه بڼه لري او هغه بڼه يي ( y ) ده، خو اوس چی موږ پښتو په عربي ابيڅی ليکو، اړ يوو چی هغه په دوه بڼو وليکو.

اليپ ــ نرمه ( ی ): چی هيڅ ټکي نه لری. له دی ( يا ) څخه مخکی توری اليپ يا واو وي او يا مخکی توری زور لري، لکه:

په چای، ځای، خدای او پای کی مخکی توری اليپ دی،

په خوی، بوی، زوی، لوی کی مخکی توری واو دی،

او سړی، منګی، لرګی، لوښی، کالی چی ( يوګړی وي ) مخکی توری زور لري.

که پورته بيلګی په لاتين ابيڅی وليکو لاندی بڼه به ولري ( aay, oy, ay ). په نوموړو وييونو کی مو ( a ) د زور (o) د اوږد واو او ( aa ) د اليپ لپاره کارولی دی.

ب ــ زورکيواله ( ۍ، əy ) : چی مخکی توری يي زورکی لري لکه:

ډوډۍ، کرکۍ، ابۍ او نور ( نومونه )

راځۍ، خورۍ، جوړوۍ او نور ( فعلونه )

يادونه:

ــ که ( يا ) د وييونو په پيل کی راشي يوازی يوه بڼه لري، لکه: يو، يوازی، يون، يوويشت، يرغل او نور.

ــ که ( يا ) د يو ويي په منځ کی راشي موږ ورته يوازی دوه بڼی لرو:

اليپ: اوږده ( ی ) لکه: تير، ډير، هير، تيل، بيل، شيدی، کيدل او نور

ب: لنډه ( ي ) لکه: ځلويښت، وير، ځير، ليکل او نور

همدارنګه که زورکيواله ( ۍ ) او يا نرمه ( ی ) د يو ويي په منځ کی راشي موږ يوازی لنډه ( ي ) ليکلی شو لکه:

نړيوال، سيال، ويل، ځايونه، خويونه او نور

پورته ستونزه په عربي ابيڅی کی نه شو حل کولی خو په لاتين ابيڅی کی يي حل اسان دی.

وړانديز:

کومه ( يا ) چی په شړۍ ( شال ) او هغه چی بيا په شړی ( لکه مچان شړئ، امر کړ ) کی کاريږی د وييڼګ له مخي يوه او زورکيواله ( ۍ، əy ) ده. نو پکار نه ده چی ( شړۍ ) کی چی نوم دی دا په ( ۍ ) سره وليکو او په کړ ( فعل ) کی يي بيا په ( ئ ) سره وليکو!

که دا هڅه د ( کړ ) او ( نوم ) د بيلوالي لپاره وي نو بيا اړ يو چی د ( ادی ) نوم او ( راځی ) کړ، تر منځ هم د بيلتون لپاره بايد د ( يا ) بڼوته بدلون ورکړو چی په ځای کار نه دی.



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

یا په کالي، سړي، دوبي، موچي، غوړي ( چی نومونه دي ) او په ځي، راځي، خوري، اغوندي اونورو کی ( چی فعلونه دي ) یوازی لنډه ( ي ) کاریږي، دلته هم موږ نه شو کولای د نوم لپاره جلا او د ( کړ ) لپاره هم جلا ( یا ) ولیکو.
نو وړاندیز دادی چی په داسی حال کی د دواړو ( نومونو او فعلونو ) لپاره باید د ( یا ) یوه بڼه وکاروو او هغه زورکیواله ( ی ) ده چی مخکی توری یي زورکی لري . یانی داسی ولیکو:
شړی، کړکی، ډوډی، غالی، ابی، څوکی، ګلالی ( چی ټول نومونه دي )
خوری ، راوړی، وشړی، ځی، کوی، راځی ( چی ټول کړونه یا فعلونه دي )
او له دغه ( ئ ) سره چی اضافي ده ، مخه ښه وکړو.
په ټوله کی د بیواکو ( Consonant ) اوخپلواکو ( Vowel ) او په دی ډله کی د ( یاګانو ) په ګډون د تورو لیکبڼه (Graphem ) باید پر غږیز ( phonetic ) بنسټ وشي، نه په نورو تاویلی ماویلی بنسټونو.
په دی توګه لکی داره ( یا )، فعلي ( یا )، اسمي ( یا )، څرګنده ( یا ) ، مجهوله ( یا ) او د ( یا ) په اړه داسی نوری نومونی باید رخصت کړو.
دالیپ او مد ستونزه:
مد ( آ ) که په عربي ژبه کی لیکل کیږي د هغی ژبی په غږیز جوړښت کی شتون لري ، عربي پوه شه او چار یي . خو په پښتو وییونو لکه ( اس ، ار ) یا نورو کی که ( مد ) لیکو له پښتو ژبی څخه په زوره عربي جوړو چی له ثوابه ګنا ډیره لري . پښتو کی ځیني داسی ستونزی نوری هم شته. د پښتو ځینی نومونه په لویلاس عربي شوي لکه خاپی چی د پښتنو د یوه ستر ټبر نوم دي په صافي لیکل شوی یا اپریدی چی د پښتنو د یوه بل ټبر نوم دی په افریدي لیکل شوی . دا ډول تیروتنی او ښویدنی ډیر وخت د ملایانو لخوا شوي دي ، البته دلته په دی خبرو نه غږیږو .
د الیپ په اړه به د اوږدمهاله وړاندیزونو په برخه کی یو څه په تفصیل خبری وشي.
د ځ او ز ستونزه:
زیات لیکونکي او لیکوالان هغه وییونه چی د یځ په روستاړي جوړیږي، څو بڼی ( یز، ایز، ز، یځ، ځ ) کاروي چی زه خپله هم دا کار له ناچاری ورځی همدغه شان کوم. د بیلګی پتوګه:
ختیځ، لویدیځ ، دریځ او نور په ( ځ ) لیکو خو وړاندیز، بنسټیز، بندیز او داسی نور بیا په ( ز) لیکو، داچی ولی داسی لیکو ایا داسی رنګارنګ لیکبڼی ته موږ کوم دلیل او څرګندونه لرو، څوک پری خبر نه دي!
لاندی یي یو څو بیلګی نوری هم رااخلم:
لومړی بیلګه: چی د ترښتی وییوکي ( ترکیبي کلمه ) مخترګه له کړنومونو ( مصدرونو ) څخه وي، لکه:
له ختل څخه ختیځ له لویدل څخه لویدیځ
له دریدل څخه دریځ له بندول څخه بندیځ او نور
دو همه بیلګه: چی د ترښتی وییوکی مخترګه له نوم څخه وي لکه:
له غر څخه غریځ له سر څخه سریځ
له کار څخه کاریځ له خنډ څخه خنډیځ او نور
دریمه بیلګه: چی د ترښتی وییوکی مخترګه له ستاینوم ( صفت ) څخه وي لکه :
له ځنډ څخه ځنډیځ له لنډ څخه لنډیځ
له خوندي څخه خوندیځ ( ارشیف ) له دروند څخه درنیځ او نور
څلورمه بیلګه: چی د ترښتی وییوکی مخترګه کړول ( قید ) وي لکه:
له څنګ څخه څنګیځ له اړخ څخه اړخیځ
له وړاندی څخه وړاندیځ له پرون څخه پرونیځ او نور
او ډیری داسی نوری بیلګی لکه: ډاګیځ، پیلیځ، پایلیز، څلوریزه ( رباعي )، خوښیزه، دودیزه، ستونځ، شنیځ ( شننه )، ښادیزه، غمیزه، کلیز ( جنتري )، کلیزه ( سلګرد )، لنډیځ، لیدیځ ( نظر )، ودیزه، ویاړیزه، اړخیز، اړیز، بندیز، بیلیز، پرګنیز، پیلیز، تړیځ، ځنډیز، خنډیز، څنډیز، څنګیز، درنیځ، دریځ، ریښه یز، ښوونیز، کریز، ګڼیځ، لمریځ، لمنیځ، مونډیز، وړاندیز، ولسیز، یرغلیز، پاکیزه، ټولیزه، درنیزه، رښیزه، سریزه، غریزه، لنډیزه، واریزه، وښیزه، ولسیزه، یادیزه او نور
د داسی بیلګو له یادونی څخه موخه دا ده چی دی ټولو ته باید یوه لیکبڼه وکارو. کله چی د لیکبڼی دا ډول ګڼه ګوڼه، نوي لیکونکي او یا بهرنیان ګوري ، تبه یي نیسي او اریان پاتیږي چی دا ستونزه به څنګه حل شي.
دلته هم زما وړاندیز دا دی چی دی ټولو ته د ( ځ، یځ، ځه، یځه ) بڼه وکاروو او په همدی خبره یي لنډه او راغوځه کړو.
البته دا لړی خورا اوږده ده، دلته می یوازی څو بیلګی د یادونی لپاره رااخیستی.
د ( ځ ) په اړه لیکونکي نوری ستونزی هم لري چی دلته له دی برخی هم دوه ـ دری بیلګی رااخلم:
هغه کړنومونه ( مصدرونه ) چی په ( وتل ) بشپړیږي لکه ( ننوتل، پریوتل، کیوتل، لاندی وتل، جاروتل، وتل، الوتل، پوریوتل، هیروتل، تیروتل، ختاوتل، راوتل، ښکیلوتل، وروتل او نور )


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

له دی کړنومونو څخه د وسمهال کړ، امرکړ او د وسترمهال کړ په جوړښت کی لږ بدلون پیښیږي او ( ت ) توری يي په ( ځ ) اوړي لکه:
هلک پوریوځي ( اوسمهالکړ )،
هلکه پوریوځه ! ( امرکړ )،
هلک به پوریوځي ( وسترمهالکړ).
همداسی د نورو کړنومونو اوړون هم درواخله. په داسی حالاتو کی ( ځ ) لیکل پکار دي.
د تلل او راتلل کړنوم هم تر دی قاعدی لاندی راځي.
البته ختل او کتل، کړنومونه له دی قاعدی څخه بیل دي.
همدارنګه د ( ځ ) توري د لیکلو لپاره ځیني نور ځایونه هم شته چی هلته باید یوازی ( ځ ) توری وکارول شي، د بیلګی پتوګه:
ځان، ځنګل، ځناور، ځار، ځمکه چیري چی پاړسووالا یی په ( جان، جنګل، جناور، جار، زمین ) لیکي په ( ځ ) لیکل پکار دي. که ځما او ځموږ هم پری ولیکل شي بده خبره به نه وي او داسی نور.
د س او ښ ستونزه:
بلخوا د پښتو ژبی نویو زده کوونکو او بهرنیانو ته ګرانه ده، پوه شي چی کومو وییونو کی ( س ) ولیکي او کومو نورو کی بیا ( ښ ) ولیکي. دلته هم که کوم عمومي اصول روښانه شي ګټوره به وي د وړاندیز پتوګه، هغه وییونه چی د پښتو خپل دي په ( ښ ) ولیکل شي او هغه وییونه چی شریک دي په ( س ) ولیکل شي، د حل یوه لار ګڼل کیدای شي.
البته نوری ستونزی هم شته لکه د ترښتو وییونو ( ترکیبي لغتونو ) د ترکیب لیکښه ، د بیلګی پتوګه:
کابلښار ولیکو،
که کابل ښار.
د حل لار ولیکو،
که حللار.
دلته موخه دا ده چی ترښتی وییونه، چیرته جلا ولیکو او په کومو حالتونو کی یي ګډ ولیکو. په دی اړه باید څو عمومي ارونه او قواعد روښانه شي او د ټولو د خبرتیا لپاره د دوی په واک کی ورکړل شي. نوری بیلګی هم شته چی مخکی ورته اشاره وشوه. نظر دا دی چی دا ستونزی باید راټولی شي او د پښتوسمون د واکمنی ټولنی لخوا (پښتو په یوه لیکښه) په موخه ورته حللار پیداشي.

ادامه لري


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ